# الشعراء

مکی سورة دی ۲۲۷ آیتونه لری
بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

طسٓمٓ ﴿١﴾

طا- سین- میم( په اصلی معنی یې الله تعالی او رسول صلی الله علیه وسلم ښه پوهیږی).

تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ﴿٢﴾

دا د هغه (باعظمته) روښانه کتاب آیتونه دی( چې حق او باطل او حلال او حرام یې په څرګندو او واضحو احکامو سره تفکیک او جلا کړی دی).

لَعَلَّكَ بَٰخِعٞ نَّفۡسَكَ أَلَّا يَكُونُواْ مُؤۡمِنِينَ ﴿٣﴾

(ای پیغمبره!)آیا ته(له غم او خفګانه)خپل زړه په دې خوړې چې ولې خلک ایمان نه راوړی؟

إِن نَّشَأۡ نُنَزِّلۡ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ءَايَةٗ فَظَلَّتۡ أَعۡنَٰقُهُمۡ لَهَا خَٰضِعِينَ ﴿٤﴾

که مونږ وغواړو نو له آسمانه به یوه لویه معجزه نازله کړو چې خلک به ورته( جبراً او قهراً) غاړه کیږدی( خو د الله تعالی حکمت نه ایجابوی چې د عقیدې په انتخاب کې د چا اختیار او آزادی سلب کړی).

وَمَا يَأۡتِيهِم مِّن ذِكۡرٖ مِّنَ ٱلرَّحۡمَٰنِ مُحۡدَثٍ إِلَّا كَانُواْ عَنۡهُ مُعۡرِضِينَ ﴿٥﴾

هر نوی نصیحت چې د مهربان خدای له لوری، دې( کافرانو او مشرکانو) ته نازلیږی، دوی ترې مخ ګرځوی.

فَقَدۡ كَذَّبُواْ فَسَيَأۡتِيهِمۡ أَنۢبَٰٓؤُاْ مَا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ﴿٦﴾

دوی نه یوازې دا چې زمونږ( آیتونه او وعدې) تکذیب کړې بلکه ملنډې او مسخرې یې هم پرې ووهلې، نو زر به د خپلو دغو اعمالو ناوړه عواقب او سزا ووینی( او زمونږ د آیتونو او پیغمبر حقانیت به ورته ثابت شی).

أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ إِلَى ٱلۡأَرۡضِ كَمۡ أَنۢبَتۡنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوۡجٖ كَرِيمٍ ﴿٧﴾

آیا دوی د ځمکې په باب ژور فکر نه دی کړی چې مونږ پکې( پخپل بالغه حکمت سره) ډول ډول ګټور( نباتات او ونې) رازرغونې کړې دی.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿٨﴾

**بیشکه چې( د دې نباتاتو په زرغونتیا کې د الله تعالی د قدرت، ربوبیت،او بعث بعدالموت څرګند) دلیل پروت دی خو زیاتره خلک( د خپل باطنی کبر او لجاجت له امله) ایمان نه راوړی.**

وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ٩

**او بیشکه چې ستا رب ( د خپلو احکامو او فرامینو په انفاذ ) پوره برلاسی او مهربان ذات دی.**

وَإِذْ نَادَىٰ رَبُّكَ مُوسَىٰٓ أَنِ ٱئْتِ ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٠

**او هغه وخت رایاد کړه چې ستا رب، موسی ته امر وکړ چې ورشه ظالم قوم ته.**

قَوْمَ فِرْعَوْنَ ۚ أَلَا يَتَّقُونَ ١١

**د فرعون قوم ته. چې آیا( د شرک او طغیان نه لاس نه اخلی او د الله تعالی له عذابه) نه ویریږی؟**

قَالَ رَبِّ إِنِّىٓ أَخَافُ أَن يُكَذِّبُونِ ١٢

**موسی وویل: ای ربه! ویریږم چې دروغجن به مې وګڼی.**

وَيَضِيقُ صَدْرِى وَلَا يَنطَلِقُ لِسَانِى فَأَرْسِلْ إِلَىٰ هَٰرُونَ ١٣

**( او بله دا چې د دوی په تکذیبی ادعاو به مې له خفګانه) سینه تنګه شی، او ژبه مې هم( د لکنت او بندش له امله) روانه او فصیحه نه ده، نو( د نبوت پیغام )هارون ته هم واستوه (چې په دې دروند مسئولیت او ستره چاره کې زما مرسته وکړی).**

وَلَهُمْ عَلَىَّ ذَنۢبٌ فَأَخَافُ أَن يَقْتُلُونِ ١٤

**او فرعونیان په ما باندې( د یوه قبطی د قتل) د جرم ادعا هم لری، چې کیدی شی، ومې وژنی.**

قَالَ كَلَّا ۖ فَٱذْهَبَا بِـَٔايَٰتِنَآ ۖ إِنَّا مَعَكُم مُّسْتَمِعُونَ ١٥

**الله تعالی وفرمایل: داسې نه ده( چې فرعونیان به په تا برلاسی شی) تاسو دواړه( ورونه) زما له معجزاتو سره لاړ شئ او زه هم ستاسو سره یم( او د دواړو خواو سوال ځواب ) اورم( او تاسو ته به په هغوی بری درکړم).**

فَأْتِيَا فِرْعَوْنَ فَقُولَآ إِنَّا رَسُولُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ١٦

**نو فرعون ته ورشئ او ورته ووایئ چې مونږ د رب العالمین رسولان یو.**

أَنْ أَرْسِلْ مَعَنَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ١٧

او( غوښتنه مو دا ده چې) بنی اسرائیل( د قبطیانو له غلامۍ نه آزاد او ورته اجازه ورکړه چې بیرته خپل پلرنی تاتوبی شام ته) زمونږ سره لاړ شی.

قَالَ أَلَمْ نُرَبِّكَ فِينَا وَلِيدًا وَلَبِثْتَ فِينَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِينَ ﴿١٨﴾

فرعون( موسی ته) وویل: آیا ته مې کوچنی پخپله ( غیږ کې) نه یې پاللی او د خپل ژوند کلونه کلونه دې زمونږ سره نه دی تیر کړی؟

وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ الَّتِي فَعَلْتَ وَأَنْتَ مِنَ الْكَافِرِينَ ﴿١٩﴾

او بیا دې خپل هغه کار هم وکړ( چې زمونږ یو سړی دې وواژه او اوس زمونږ په مرستو او نعمتونو سترګې هم پټوې) او ناشکری کوې (او غواړې خپله باداری او مشری هم په مونږ ومنې).

قَالَ فَعَلْتُهَا إِذًا وَأَنَا مِنَ الضَّالِّينَ ﴿٢٠﴾

موسی وویل: دغه کار مې په سهوه او بې خبرۍ کې کړی و، او فکر مې نه کاوه چې( د مظلوم د دفاع لپاره به زما په یوه سوک، قبطی سړی وژل کیږی).

فَفَرَرْتُ مِنْكُمْ لَمَّا خِفْتُكُمْ فَوَهَبَ لِي رَبِّي حُكْمًا وَجَعَلَنِي مِنَ
الْمُرْسَلِينَ ﴿٢١﴾

او کله چې ستاسو نه وتښتیدم( د اوږدې مودې په تیریدو) راته زما رب نبوت او حکمت را په برخه کړ، او پخپلو پیغمبرانو کې یې وشمیرلم.

وَتِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَيَّ أَنْ عَبَّدْتَ بَنِي إِسْرَائِيلَ ﴿٢٢﴾

او دا( زما د کوچنیوالی پالنه) څه لوی احسان دی( چې په ما یې باروې؟ په داسې حال کې چې زما ټول قوم) بنی اسرائیل دې د غلامۍ په ځنځیرونو تړلی و( هلکان به دې له تیغه تیرول او په نجونو به دې د وینځو په شان بیګارونه کول).

قَالَ فِرْعَوْنُ وَمَا رَبُّ الْعَالَمِينَ ﴿٢٣﴾

فرعون وویل: رب العالمین څه دی؟

قَالَ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا إِنْ كُنْتُمْ مُوقِنِينَ ﴿٢٤﴾

موسی وویل: که وربانذې باور لرئ، د آسمانونو، ځمکې او کائناتو د ټولو موجوداتو او شتمنیو رب دی.

قَالَ لِمَنْ حَوْلَهُۥٓ أَلَا تَسْتَمِعُونَ ﴿٢٥﴾

(فرعون په تمسخر سره ) خپلو درباریانو ته وویل: آیا نه اورئ( چې څه وایی)؟

قَالَ رَبُّكُمْ وَرَبُّ ءَابَآئِكُمُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٢٦﴾

(موسی) وویل: ( هماغه ذات الله تعالی) چې هم ستاسو او هم ستاسو د پلرونو او نیکونو رب دی.

قَالَ إِنَّ رَسُولَكُمُ ٱلَّذِىٓ أُرْسِلَ إِلَيْكُمْ لَمَجْنُونٌ ﴿٢٧﴾

( فرعون) وویل: ( ای خلکو!)دغه پیغمبر چې تاسو ته رالیږل شوی، بیخی لیونی دی.

قَالَ رَبُّ ٱلْمَشْرِقِ وَٱلْمَغْرِبِ وَمَا بَيْنَهُمَآ ۖ إِن كُنتُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٢٨﴾

( موسی) وویل: که پوهه لرئ نو( الله تعالی) د ختیځ او لویدیځ او په هغو کې د ټولو موجوداتو او شتمنیو رب دی.

قَالَ لَئِنِ ٱتَّخَذْتَ إِلَٰهًا غَيْرِى لَأَجْعَلَنَّكَ مِنَ ٱلْمَسْجُونِينَ ﴿٢٩﴾

(فرعون) وویل: که له ما نه غیر د بل چا خدایی ومنې، زندان به دې ځای وی.

قَالَ أَوَلَوْ جِئْتُكَ بِشَىْءٍ مُّبِينٍ ﴿٣٠﴾

( موسی) وویل: که( د الله تعالی د الوهیت او خپل نبوت د اثبات لپاره) درته ځرګنده معجزه وړاندې کړم( بیا به دی تصمیم څه وی)؟

قَالَ فَأْتِ بِهِۦٓ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٣١﴾

( فرعون) وویل: که رښتینی یې، معجزه دې راوړاندې کړه.

فَأَلْقَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِىَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ ﴿٣٢﴾

نو موسی خپله امسا( میدان ته) وغورزوله چې بې له درنګه ترې ښامار جوړ شو.

وَنَزَعَ يَدَهُۥ فَإِذَا هِىَ بَيْضَآءُ لِلنَّٰظِرِينَ ﴿٣٣﴾

او خپل لاس یې له ګریوانه راوویست چې ټولو خلکو ته سپین وځلید.

قَالَ لِلْمَلَإِ حَوْلَهُۥٓ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٌ عَلِيمٌ ﴿٣٤﴾

( فرعون خپلو حاضرو سردارانو او اشرافو ته) وویل: دا خو پوره مجرب او پوه جادوګر دی.

يُرِيدُ أَن يُخْرِجَكُم مِّنْ أَرْضِكُم بِسِحْرِهِۦ فَمَاذَا تَأْمُرُونَ ﴿٣٥﴾

چې غواړی پخپلو ساحرانه ټوټکو سره، تاسو له خپل هیواده وشړی، نو مشوره او نظر مو، څه دی؟

قَالُوٓا۟ أَرْجِهْ وَأَخَاهُ وَٱبْعَثْ فِى ٱلْمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ﴿٣٦﴾

(هغوی) وویل: ده او ورور ته یې وخت ورکړه او ښارونو ته جارچیان واستوه.

يَأْتُوكَ بِكُلِّ سَحَّارٍ عَلِيمٍ ﴿٣٧﴾

چې ټول مجرب ساحران درته حاضر کړی.

فَجُمِعَ ٱلسَّحَرَةُ لِمِيقَٰتِ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ﴿٣٨﴾

نو یوه ورځ په ټاکلی وخت ساحران راټول کړی شول.

وَقِيلَ لِلنَّاسِ هَلْ أَنتُم مُّجْتَمِعُونَ ﴿٣٩﴾

او خلکو ته هم اعلان وشو چې دغې لویې مسابقې ته حاضر شی.

لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ ٱلسَّحَرَةَ إِن كَانُوا۟ هُمُ ٱلْغَٰلِبِينَ ﴿٤٠﴾

که زمونږ جادوګران برلاسی شی نو مونږ به یې( د لارې او مسلک) پیروی وکړو.

فَلَمَّا جَآءَ ٱلسَّحَرَةُ قَالُوا۟ لِفِرْعَوْنَ أَئِنَّ لَنَا لَأَجْرًا إِن كُنَّا نَحْنُ
ٱلْغَٰلِبِينَ ﴿٤١﴾

جادوګرانو له راتلو سره سم، فرعون ته وویل: که میدان وګټو، نو په څه جایزه به مو سرلوړی کړې؟

قَالَ نَعَمْ وَإِنَّكُمْ إِذًا لَّمِنَ ٱلْمُقَرَّبِينَ ﴿٤٢﴾

هغه وویل: هو، او د بری په صورت کې به مو د دربار د خواصو او مقربینو په توګه وټاکم.

قَالَ لَهُم مُّوسَىٰٓ أَلْقُوا۟ مَآ أَنتُم مُّلْقُونَ ﴿٤٣﴾

موسی جادوګرانو ته وویل: څه چې غواړئ را میدان ته یې کړئ.

فَأَلۡقَوۡاْ حِبَالَهُمۡ وَعِصِيَّهُمۡ وَقَالُواْ بِعِزَّةِ فِرۡعَوۡنَ إِنَّا لَنَحۡنُ
ٱلۡغَٰلِبُونَ ﴿٤٤﴾

**هغوی خپلې رسۍ او امساګانې میدان ته راوغورزولې او ویې ویل: د فرعون په شان او دبدبه مو قسم چې برى زمونږ دی.**

فَأَلۡقَىٰ مُوسَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ تَلۡقَفُ مَا يَأۡفِكُونَ ﴿٤٥﴾

**خو همدا چې موسی خپله امسا ور وغورزوله، بې له درنګه یې (د ساحرانو) ټول جعلی ماران یو یو له خپل کومې تیر کړل .**

فَأُلۡقِيَ ٱلسَّحَرَةُ سَٰجِدِينَ ﴿٤٦﴾

**او ورسره سم ټول جادوګران( د الهی معجزې د عظمت او حقیقت په منلو سره، الله تعالی ته) په سجدو پریوتل.**

قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٤٧﴾

**اعلان یې وکړ: ایمان مو راوړی په رب العالمین.**

رَبِّ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ﴿٤٨﴾

**په رب د موسی او هارون.**

قَالَ ءَامَنتُمۡ لَهُۥ قَبۡلَ أَنۡ ءَاذَنَ لَكُمۡۖ إِنَّهُۥ لَكَبِيرُكُمُ ٱلَّذِي عَلَّمَكُمُ
ٱلسِّحۡرَ فَلَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَۚ لَأُقَطِّعَنَّ أَيۡدِيَكُمۡ وَأَرۡجُلَكُم مِّنۡ خِلَٰفٖ
وَلَأُصَلِّبَنَّكُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٤٩﴾

**فرعون وویل: زما بې اجازې مو په هغه ایمان راوړ؟ پوه شوم چې دی ستاسو مشر او استاد دی چې تاسو ته یې د سحر درس درکړی( او زما په ضد مو شریکه دسیسه جوړه کړې) خو زر به ( د خپلو اعمالو په سزا) خبر شئ. لاس او پښې به مو رد و بدل پرې کړم او ټول به په دار وځړوم.**

قَالُواْ لَا ضَيْرَۖ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ﴿٥٠﴾

**ساحرانو وویل: هیڅ پروا نشته، مونږ د خپل رب حضور ته ورګرځو.**

إِنَّا نَطْمَعُ أَن يَغْفِرَ لَنَا رَبُّنَا خَطَٰيَٰنَآ أَن كُنَّآ أَوَّلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٥١﴾

**او هیله من یو چې رب به مو زمونږ ګناهونه راته وبښې ځکه مونږ( د خپل قوم) لومړنی مؤمنان یو.**

۞ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِيٓ إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ﴿٥٢﴾

**او موسی ته مو وحې وکړه چې بندګان مې شپې د شپې وباسه( چې فرعون او فرعونیان ) به درپسې وی.**

فَأَرْسَلَ فِرْعَوْنُ فِي ٱلْمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ﴿٥٣﴾

**نو فرعون( د قواو د راټولولو لپاره) ښارونو ته مؤظف کسان واستول.**

إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَشِرْذِمَةٌ قَلِيلُونَ ﴿٥٤﴾

**(او ویې ویل:) دا( بنی اسرائیل) د ګوتو په شمار کسانو یوه ډله ده.**

وَإِنَّهُمْ لَنَا لَغَآئِظُونَ ﴿٥٥﴾

**او( پخپل بغاوت سره) زمونږ قهر راپاروی.**

وَإِنَّا لَجَمِيعٌ حَٰذِرُونَ ﴿٥٦﴾

**خو مونږ هوښیار او تیارسی قوت یو( او هر ډول دسیسه شنډولی شو).**

فَأَخْرَجْنَٰهُم مِّن جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿٥٧﴾

**نو ( فرعونیان مو د بنی اسرائیلو په تعقیب د مصر) له باغونو او چشمه زارونو څخه را وویستل.**

وَكُنُوزٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴿٥٨﴾

**او له خزانو او هسکو ماڼیو( څخه مو بې برخې کړل).**

كَذَٰلِكَ وَأَوْرَثْنَٰهَا بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿٥٩﴾

**او په دې توګه مو( د هغوی ټولې شتمنۍ) بنی اسرائیلو ته په میراث ورکړې.**

فَأَتۡبَعُوهُم مُّشۡرِقِينَ ﴿٦٠﴾

**فرعونیان د لمرخرک سره سم په هغوی پسې راورسیدل.**

فَلَمَّا تَرَٰٓءَا ٱلۡجَمۡعَانِ قَالَ أَصۡحَٰبُ مُوسَىٰٓ إِنَّا لَمُدۡرَكُونَ ﴿٦١﴾

**کله چې دواړو ډلو یو بل ولیدل، د موسی ملګرو وویل: مونږ لکه چې( د دښمن په لاس) کښیوتو.**

قَالَ كَلَّآۖ إِنَّ مَعِيَ رَبِّي سَيَهۡدِينِ ﴿٦٢﴾

**(موسی) وویل: نه (غم مه کوئ) زما رب له ما سره دی او زر به راته یوه لاره راوښیی.**

فَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنِ ٱضۡرِب بِّعَصَاكَ ٱلۡبَحۡرَۖ فَٱنفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرۡقٖ كَٱلطَّوۡدِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٦٣﴾

**نو موسی ته مو وحې وکړه چې سیند پخپله امسا ووهه، ( له ګوزار سره سم) سیند( په برخو برخو) وچاود چې هره برخه یې لکه د یوه غره جلا جلا شوه( دولس وچې لارې پکې جوړې شوی چې د بنی اسرائیلو دولس قبیلې پخپلو خپلو لارو تیرې شوې) .**

وَأَزۡلَفۡنَا ثَمَّ ٱلۡأٓخَرِينَ ﴿٦٤﴾

**او هغه بله( یعنې د فرعونیانو) ډله مو هم سیند ته ورنږدې کړه.**

وَأَنجَيۡنَا مُوسَىٰ وَمَن مَّعَهُۥٓ أَجۡمَعِينَ ﴿٦٥﴾

**او موسی او د هغه ټول ملګری مو روغ رمټ وژغورل.**

ثُمَّ أَغۡرَقۡنَا ٱلۡأٓخَرِينَ ﴿٦٦﴾

**او بیا مو هغه بله( یعنې د فرعونیانو ډله د اوبو په قهرجن کومی ورننویسته او) ډوبه مو کړه.**

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿٦٧﴾

**بیشکه چې په دې ستره واقعه کې( د مکې د سردارانو او د اسلام د نورو سرسختو او متکبرو دښمنانو لپاره) د عبرت لوی درس پروت دی، او( د فرعون له میرمنې او لږ شمیر نورو نه غیر) د دوی زیاتره کسان مؤمنان نه وو.**

وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٦٨﴾

او یقیناً چې ستا رب( د خپلو احکامو په تطبیق پوره) برلاسی او ډیر زیات رحم لرونکی ذات دی.

وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ إِبۡرَٰهِيمَ ﴿٦٩﴾

او هغوی( د مکې کفارو) ته د ابراهیم( علیه السلام) داستان هم واوروه.

إِذۡ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوۡمِهِۦ مَا تَعۡبُدُونَ ﴿٧٠﴾

چې خپل پلار او قوم ته یې وویل: دا څه دی چې تاسو ورته عبادت کوی؟

قَالُواْ نَعۡبُدُ أَصۡنَامٗا فَنَظَلُّ لَهَا عَٰكِفِينَ ﴿٧١﴾

هغوی وویل: د بتانو عبادت کوو، او همیشه ورته(په پوره عقیدت او احترام)لاس په نامه ولاړ یو.

قَالَ هَلۡ يَسۡمَعُونَكُمۡ إِذۡ تَدۡعُونَ ﴿٧٢﴾

ابراهیم وویل: کله چې ورته دعا کوی، نو آیا دعا مو اوری؟

أَوۡ يَنفَعُونَكُمۡ أَوۡ يَضُرُّونَ ﴿٧٣﴾

( په عبادت سره) درته څه ګټه رسوی،( او که یې عبادت و نه کړی) نو کوم زیان ضرر ترې وینی؟

قَالُواْ بَلۡ وَجَدۡنَآ ءَابَآءَنَا كَذَٰلِكَ يَفۡعَلُونَ ﴿٧٤﴾

هغوی وویل: بلکه بس د پلرونو نیکونو لاره مو تینګه کړې چې همدا ډول عبادت یې کاوه.

قَالَ أَفَرَءَيۡتُم مَّا كُنتُمۡ تَعۡبُدُونَ ﴿٧٥﴾

ابراهیم وویل: آیا پوهیږی، څه چې تاسو یې عبادت کوی.

أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُمُ ٱلۡأَقۡدَمُونَ ﴿٧٦﴾

تاسو او که مو پخوانی پلرونه او نیکونه ورته په سجدو پراته وو.

فَإِنَّهُمۡ عَدُوّٞ لِّيٓ إِلَّا رَبَّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٧٧﴾

ټول زما دښمنان دی، خو یوازې رب العالمین( زما د عبادت مرجع ده چې زما د ابدی نیکمرغی متضمن دی).

ٱلَّذِى خَلَقَنِى فَهُوَ يَهۡدِينِ ﴿٧٨﴾

هغه ذات چې زه يې پيدا کړی او د هدايت لاره يې راښوولې ده.

وَٱلَّذِى هُوَ يُطۡعِمُنِى وَيَسۡقِينِ ﴿٧٩﴾

هغه ذات چې هم خوراک راکوی او هم څښاک.

وَإِذَا مَرِضۡتُ فَهُوَ يَشۡفِينِ ﴿٨٠﴾

او چې ناروغ شم نو روغوی مې.

وَٱلَّذِى يُمِيتُنِى ثُمَّ يُحۡيِينِ ﴿٨١﴾

هغه ذات چې هم مې وفات کوی او هم مې بيرته راژوندی کوی.

وَٱلَّذِىٓ أَطۡمَعُ أَن يَغۡفِرَ لِى خَطِيٓـَٔتِى يَوۡمَ ٱلدِّينِ ﴿٨٢﴾

او هغه ذات چې ورته هيله من يم د قيامت په ورځ به مې ګناهونه راته راوبښی.

رَبِّ هَبۡ لِى حُكۡمًا وَأَلۡحِقۡنِى بِٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٨٣﴾

ای ربه! ما ته علم او حکمت ( او ستا دربار ته د تقرب درجات) راوبښه او له نيکانو سره مې ملګری کړه.

وَٱجۡعَل لِّى لِسَانَ صِدۡقٍ فِى ٱلۡأَخِرِينَ ﴿٨٤﴾

او په راتلونکو نسلونو کې مې په نيک نوم( او لوړه مرتبه) ياد کړه.

وَٱجۡعَلۡنِى مِن وَرَثَةِ جَنَّةِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٨٥﴾

او د نعمتونو د ډک جنت په وارثينو کې مې شامل کړه.

وَٱغۡفِرۡ لِأَبِىٓ إِنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلضَّآلِّينَ ﴿٨٦﴾

او پلار مې وبښه، رښتيا چې هغه بې لارې و.

وَلَا تُخۡزِنِى يَوۡمَ يُبۡعَثُونَ ﴿٨٧﴾

او د قيامت په ورځ مې، مه بې عزته کوه.

يَوۡمَ لَا يَنفَعُ مَالٞ وَلَا بَنُونَ ﴿٨٨﴾

هغه ورځ چې نه به چاته مال ګټه ورسوی، او نه ځامن.

إِلَّا مَنۡ أَتَى ٱللَّهَ بِقَلۡبٖ سَلِيمٖ ﴿٨٩﴾

بلکه ګټه به د هغه چا وی چې په پاک او سلیم زړه، د الله تعالی حضور ته وړاندې شی.

وَأُزۡلِفَتِ ٱلۡجَنَّةُ لِلۡمُتَّقِينَ ﴿٩٠﴾

او جنت به پرهیزګارانو ته نږدې راوړل شی( د دوی د خوښئ او هرکلی لپاره).

وَبُرِّزَتِ ٱلۡجَحِيمُ لِلۡغَاوِينَ ﴿٩١﴾

او دوزخ به راڅرګند کړی شی ګمراهانو او مجرمانو ته( د دوی د حسرت او ناامیدئ لپاره).

وَقِيلَ لَهُمۡ أَيۡنَ مَا كُنتُمۡ تَعۡبُدُونَ ﴿٩٢﴾

او ورته به وویل شی: چیرته دی( ستاسو باطل خدایان) چې تاسو ورته د عبادت( په سجدو پراته واست)؟

مِن دُونِ ٱللَّهِ هَلۡ يَنصُرُونَكُمۡ أَوۡ يَنتَصِرُونَ ﴿٩٣﴾

چې د الله تعالی په مقابل کې(مو غوره کړی وو). آیا نن مو( له اوره) ژغورلی شی؟ او یا له خپلو ځانونو څخه عذاب دفع کولی شی؟

فَكُبۡكِبُواْ فِيهَا هُمۡ وَٱلۡغَاوُۥنَ ﴿٩٤﴾

نو دغه بتان او پرستش کوونکی به یې سره ټول پرمخې دوزخ ته وروغورځول شی.

وَجُنُودُ إِبۡلِيسَ أَجۡمَعُونَ ﴿٩٥﴾

او ورسره د ابلیس ټول لښکریان هم.

قَالُواْ وَهُمۡ فِيهَا يَخۡتَصِمُونَ ﴿٩٦﴾

ټول به په جهنم کې پخپلمنځی جګړو او ناندریو اخته شی( او مشرکان به بتانو ته) وایی:

تَٱللَّهِ إِن كُنَّا لَفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ﴿٩٧﴾

په الله قسم چې دا زمونږ څرګنده ګمراهی وه

إِذۡ نُسَوِّيكُم بِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٩٨﴾

چې تاسو مو د کايناتو د ستر رب سره برابر ګڼلی.

وَمَآ أَضَلَّنَآ إِلَّا ٱلۡمُجۡرِمُونَ ﴿٩٩﴾

او همدې( خاينو) مجرمينو، مونږ بې لارې کړو.

فَمَا لَنَا مِن شَٰفِعِينَ ﴿١٠٠﴾

اوس نه زمونږ لپاره کوم سفارش کوونکی شته.

وَلَا صَدِيقٍ حَمِيمٖ ﴿١٠١﴾

او نه کوم خواخوږی دوست.

فَلَوۡ أَنَّ لَنَا كَرَّةٗ فَنَكُونَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٠٢﴾

نو کاش بيرته( دنيا ته) وګرځو او د مؤمنانو په حيث ژوند وکړو.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿١٠٣﴾

بيشکه چې په دې داستان کې، د عبرت لوی درس پروت دی، خو زياتره کسان ترې بيا هم منکر دی.

وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٠٤﴾

او ستا رب( د خپلو احکامو په انفاذ پوره ) برلاسی او مهربان ذات دی.

كَذَّبَتۡ قَوۡمُ نُوحٍ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿١٠٥﴾

د نوح قوم، پيغمبران دروغجن وګڼل.

إِذۡ قَالَ لَهُمۡ أَخُوهُمۡ نُوحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٠٦﴾

کله چې يې( قومی) ورور نوح، هغوی ته وويل: آيا ( د شرک او سرکشۍ نه چې د الله تعالی قهر او عذاب ورسره دی) لاس نه اخلئ؟

إِنِّي لَكُمۡ رَسُولٌ أَمِينٞ ﴿١٠٧﴾

زه ستاسو لپاره يو امين پيغمبر يم.

فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٠٨﴾

نو له الله تعالی نه وویرېږئ او زما اطاعت وکړئ.

وَمَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٠٩﴾

او زه د خپل رسالت د ابلاغ په بدل کې ستاسو نه هيڅ معاوضه او اجوره نه غوارم. زما اجر د کائناتو د ستر رب په حضور کې ثابت دی.

فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١١٠﴾

نو له الله تعالی نه وویرېږئ او زما امر ته غاړه کيږدئ.

۞ قَالُوٓاْ أَنُؤۡمِنُ لَكَ وَٱتَّبَعَكَ ٱلۡأَرۡذَلُونَ ﴿١١١﴾

هغوی وويل: آيا په تا ايمان راوړو چې ټول پست او بې ارزښته خلک دې ملګری دی؟

قَالَ وَمَا عِلۡمِي بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١١٢﴾

نوح وويل: ماته د هغوی د اعمالو هيڅ معلومات نشته.

إِنۡ حِسَابُهُمۡ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّيۖ لَوۡ تَشۡعُرُونَ ﴿١١٣﴾

که پوهيږئ نو د هغوی د کړو وړو حساب يوازې له الله تعالی سره دی.

وَمَآ أَنَا۠ بِطَارِدِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١١٤﴾

او زه خو مؤمنان له ځانه شړلی نشم.

إِنۡ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٞ مُّبِينٞ ﴿١١٥﴾

زه يوازې( د الله تعالی له عذابه) اخطار ورکوونکی يم.

قَالُواْ لَئِن لَّمۡ تَنتَهِ يَٰنُوحُ لَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمَرۡجُومِينَ ﴿١١٦﴾

هغوی وويل: ای نوحه!( که د دين له تبليغ نه) لاس وانخلې، سنګسار به دې کړو.

قَالَ رَبِّ إِنَّ قَوۡمِي كَذَّبُونِ ﴿١١٧﴾

نوح وويل: ای ربه! زه خپل قوم درواغجن وګڼلم( او زما دعوت يې رد کړ).

فَٱفۡتَحۡ بَيۡنِي وَبَيۡنَهُمۡ فَتۡحٗا وَنَجِّنِي وَمَن مَّعِيَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١١٨﴾

نو( څنګه چې لازمه ګڼې) زما او د قوم ترمنځ مې وروستۍ فیصله وکړه، او ما او مؤمنان ملګرې مې( د دوی له شره) وژغوره.

فَأَنجَيۡنَٰهُ وَمَن مَّعَهُۥ فِي ٱلۡفُلۡكِ ٱلۡمَشۡحُونِ ﴿١١٩﴾

نو هغه او د هغه ټولو ملګرو ته مو په یوه ډکه کښتۍ کې( له مختلف النوع ژویو سره یو ځای) نجات ورکړ.

ثُمَّ أَغۡرَقۡنَا بَعۡدُ ٱلۡبَاقِينَ ﴿١٢٠﴾

او نور پاتې کسان مو له یوې مخې ډوب کړل.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿١٢١﴾

بیشکه چې په دغه پیښه کې د عبرت لوی درس پروت دی او د هغوی زیاتره کسان مؤمنان نه وو.

وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٢٢﴾

او حقیقت دا دی چې ستا رب( د خپلو ټولو احکامو او فرامینو په تطبیق او انفاذ پوره) برلاسی او مهربان ذات دی.

كَذَّبَتۡ عَادٌ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿١٢٣﴾

عادیانو، پیغمبران دروغجن وګڼل.

إِذۡ قَالَ لَهُمۡ أَخُوهُمۡ هُودٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٢٤﴾

کله چې یې( قومي) ورور هود، هغوی ته وویل: آیا( د کفر او شرک څخه) لاس نه اخلئ؟

إِنِّي لَكُمۡ رَسُولٌ أَمِينٞ ﴿١٢٥﴾

زه ستاسو لپاره ( د الله تعالی له لوری) یو امین استازی یم.

فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٢٦﴾

نو له الله تعالی نه وویریږئ او زما اطاعت وکړئ.

وَمَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٢٧﴾

او زه د خپل رسالت د ابلاغ په بدل کې ستاسو نه هیڅ معاوضه نه غواړم، زما اجر د رب العالمین په عهده دی.

أَتَبْنُونَ بِكُلِّ رِيعٍ ءَايَةً تَعْبَثُونَ ﴿١٢٨﴾

آیا تاسو( بې ضرورته) د لوبو او ساعت تیرۍ لپاره، په هره غونډۍ، لوړ دنګ څلی او منارونه جوړوی.

وَتَتَّخِذُونَ مَصَانِعَ لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُونَ ﴿١٢٩﴾

او مجلل قصرونه او هسکې او دنګې قلاګانې د دې لپاره جوړوی، چې ګنې تر ابده به ژوندی یاست.

وَإِذَا بَطَشْتُم بَطَشْتُمْ جَبَّارِينَ ﴿١٣٠﴾

او چې( د مجازات لپاره) څوک راونیسی نو بیا ورسره زور زیاتی کوی.

فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٣١﴾

نو له الله تعالی نه وویریږئ او زما اطاعت وکړئ.

وَاتَّقُوا الَّذِي أَمَدَّكُم بِمَا تَعْلَمُونَ ﴿١٣٢﴾

او له هغه ذات نه وویریږئ، چې ښه پوهیږئ، ډول ډول نعمتونه او مرستې یې درباندې لورولې دی.

أَمَدَّكُم بِأَنْعَامٍ وَبَنِينَ ﴿١٣٣﴾

د څارویو او اولادونو مرسته یې درسره وکړه.

وَجَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿١٣٤﴾

او باغونه او رڼې چینې یې در په برخه کړې.

إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٣٥﴾

زما ویره دا ده چې( د پخوانیو قومونو په شان) به درباندې کوم لوی عذاب نازل شی.

قَالُوا سَوَاءٌ عَلَيْنَا أَوَعَظْتَ أَمْ لَمْ تَكُن مِّنَ الْوَاعِظِينَ ﴿١٣٦﴾

هغوی وویل: ستا نصیحت او نه نصیحت دواړه مونږ ته یوشان دی.

إِنْ هَٰذَا إِلَّا خُلُقُ الْأَوَّلِينَ ﴿١٣٧﴾

دغه( نصیحتونه او د عذاب تهدیدونه) د پخوانیو خلکو رواجونه وو.

وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴿١٣٨﴾

**او مونږ هيڅکله په عذاب اخته کيدونکی نه يو.**

فَكَذَّبُوهُ فَأَهْلَكْنَاهُمْ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٣٩﴾

**نو (عاديانو خپل پيغمبر)دروغجن وګڼه او له همدې امله مو هلاک کړل. بيشکه چې په دې داستان کې د عبرت درس پروت دی، او د هغوی زياتره کسان مؤمنان نه وو.**

وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿١٤٠﴾

**او يقيناً چې ستا رب( پخپلو ټولو چارو او اقداماتو) برلاسی او مهربان ذات دی.**

كَذَّبَتْ ثَمُودُ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٤١﴾

**ثموديانو، پيغمبران درواغجن وګڼل.**

إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ صَالِحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٤٢﴾

**کله چه د هغوی( قومی) ورور صالح، هغوی ته وويل:( آيا له شرک ، کفر او سرکشی نه) لاس نه اخلئ؟**

إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٤٣﴾

**بې له شکه( زه د الله تعالی له لوری) تاسو ته امين استازی يم.**

فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٤٤﴾

**نو له الله تعالی نه وويريږئ او زما اطاعت وکړئ.**

وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٤٥﴾

**او د خپل رسالت د ابلاغ په بدل کې ستاسو نه هيڅ اجوره او معاوضه نه غواړم، زما اجر د کائناتو د ستر رب په حضور کې ثابت دی.**

أَتُتْرَكُونَ فِي مَا هَاهُنَا آمِنِينَ ﴿١٤٦﴾

**آيا فکر کوئ چې ( د دې دنيوی ژوند په نعمتونو او سوکاليو کې به) تل تر تله داډمن پريښودل شئ( او کوم تغير او زوال به نه راځی).**

فِي جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿١٤٧﴾

په باغونو او چینو کې.

وَزُرُوعٍ وَنَخْلٍ طَلْعُهَا هَضِيمٌ ﴿١٤٨﴾

او کښتونو او د نرمو او خوږو خرماو( په باغونو کې به ستاسو ژوند تلپاتې وی)؟

وَتَنْحِتُونَ مِنَ ٱلْجِبَالِ بُيُوتًا فَٰرِهِينَ ﴿١٤٩﴾

او په پوره مهارت او ځیرکۍ سره چې په غرونو کې کورونه جوړوئ( په دې هیله یاست چې له هر آفت او مصیبت نه به په امن کې پاتې شئ)؟

فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٥٠﴾

نو له الله تعالی نه ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ.

وَلَا تُطِيعُوٓا۟ أَمْرَ ٱلْمُسْرِفِينَ ﴿١٥١﴾

او د اسراف کوونکو( له حدودو تیری کوونکو) په پله، پل مه ږدئ.

ٱلَّذِينَ يُفْسِدُونَ فِي ٱلْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ ﴿١٥٢﴾

هغه( اسراف کوونکی) چې په ځمکه کې فساد خپروی او د اصلاح لپاره هیڅ قدم نه اخلی.

قَالُوٓا۟ إِنَّمَآ أَنتَ مِنَ ٱلْمُسَحَّرِينَ ﴿١٥٣﴾

ثمودیانو وویل: اصلی خبره دا ده چې ته کوډو وهلی یې.

مَآ أَنتَ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا فَأْتِ بِـَٔايَةٍ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿١٥٤﴾

ته زمونږ په شان یو انسان یې، که رښتینی یې نو( د خپل نبوت د اثبات لپاره) یوه معجزه راوړاندې کړه.

قَالَ هَٰذِهِۦ نَاقَةٌ لَّهَا شِرْبٌ وَلَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ﴿١٥٥﴾

هغه وویل: دا یوه اوښه ده( چې ستاسو په غوښتنه، د الله تعالی په اراده زما د نبوت د اثبات لپاره د غره له تیږې راوتلې ده) په دغه چینه کې د اوبو څښلو برخه لری، او تاسو هم پکې د څښلو یوه ټاکلې ورځ لرئ.

وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٖ فَيَأۡخُذَكُمۡ عَذَابُ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ﴿١٥٦﴾

**او هغې ته هيڅ صدمه او تکليف و نه رسوی، که نه د يوې لويې ورځې په عذاب به اخته شی.**

فَعَقَرُوهَا فَأَصۡبَحُواْ نَٰدِمِينَ ﴿١٥٧﴾

**خو هغوی، اوښه ژوبله او ووژله( او درې ورځې وروسته چې عذاب ورباندې نازليده) بيا پخپل کار پښيمانه شول.**

فَأَخَذَهُمُ ٱلۡعَذَابُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿١٥٨﴾

**( ځکه)يوه سخت عذاب ترې غيره راچاپيره کړه. بيشکه چې په دې داستان کې د عبرت درس پروت دی، خو زياترو(ثموديانو)بيا هم ايمان نه و راوړی.**

وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٥٩﴾

**او يقيناً چې ستا رب( پخپلو ټولو احکامو او اقداماتو)برلاسی او مهربان ذات دی.**

كَذَّبَتۡ قَوۡمُ لُوطٍ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿١٦٠﴾

**د لوط قوم پيغمبران درواغجن وګڼل.**

إِذۡ قَالَ لَهُمۡ أَخُوهُمۡ لُوطٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٦١﴾

**کله چې يې (قومی) ورور لوط ورته وويل: آيا( د شرک او کفر او ناوړو اعمالو نه) لاس نه اخلی؟**

إِنِّي لَكُمۡ رَسُولٌ أَمِينٞ ﴿١٦٢﴾

**بيشکه چې زه ستاسو لپاره( د الله تعالی له لوری) يو امانتدار استازی يم.**

فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٦٣﴾

**نو له الله تعالی نه ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ.**

وَمَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٦٤

او زه( د خپل رسالت د ابلاغ لپاره) ستاسو نه کومه معاوضه او اجوره نه غواړم، بلکه اجر مې د کائناتو د ستر رب سره خوندی دی.

أَتَأۡتُونَ ٱلذُّكۡرَانَ مِنَ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٦٥

آيا تاسو په خلکو کې يوازې له نارينه و سره جنسی اړيکې ساتئ؟

وَتَذَرُونَ مَا خَلَقَ لَكُمۡ رَبُّكُم مِّنۡ أَزۡوَٰجِكُمۚ بَلۡ أَنتُمۡ قَوۡمٌ عَادُونَ ١٦٦

او خپلې پاکې ميرمنې پرېږدئ، چې رب مو درته په برخه کړې دي؟ ( په دغه ناوړه عمل سره) تاسو( له الهی او انسانی حدودو نه) يوه تيری کوونکی ډله ياديږئ.

قَالُواْ لَئِن لَّمۡ تَنتَهِ يَٰلُوطُ لَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمُخۡرَجِينَ ١٦٧

هغوی وويل: ای لوطه! که( د دين له تبليغ او نصيحتونو نه) لاس وانخلې، له دې خاورې به دې وشړو.

قَالَ إِنِّي لِعَمَلِكُم مِّنَ ٱلۡقَالِينَ ١٦٨

(لوط) وويل: بې له شکه چې زه ستاسو له دې ناوړه عمل نه سخته کرکه لرم.

رَبِّ نَجِّنِي وَأَهۡلِي مِمَّا يَعۡمَلُونَ ١٦٩

ای زما ربه! ما او کورنۍ مې( د دوی د ناوړو کړنو  له عاقبت څخه) وژغوره.

فَنَجَّيۡنَٰهُ وَأَهۡلَهُۥٓ أَجۡمَعِينَ ١٧٠

نو هغه مو، سره له کورنۍ يې روغ رمټ وژغوره.

إِلَّا عَجُوزٗا فِي ٱلۡغَٰبِرِينَ ١٧١

خو يوه زړه ميرمن( يې چې د مجرمينو سره يې لاس يو و، له هماغو سره د عذاب لپاره) پاتې کړی شوه.

ثُمَّ دَمَّرۡنَا ٱلۡأٓخَرِينَ ١٧٢

بيا مو دغه ټول پاتې شوی کسان (مجرمين) تباه کړل.

وَأَمۡطَرۡنَا عَلَيۡهِم مَّطَرٗاۖ فَسَآءَ مَطَرُ ٱلۡمُنذَرِينَ ١٧٣

او په هغوی مو د کاڼو باران ووراوه.( هو) ډير بد باران و، په ويرول شويو( مجرمانو) باندې.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٧٤﴾

بيشکه چې په دې داستان کې د عبرت لوی درس پروت دی، او د لوط د قوم زياتره کسان ايمان راوړونکی نه وو.

وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿١٧٥﴾

او يقيناً چې ستا رب( د خپلو فرمانونو په تطبيق پوره ) برلاسی او مهربان ذات دی.

كَذَّبَ أَصْحَابُ لْئَيْكَةِ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٧٦﴾

د ايکه( ځنګله) خاوندانو( چې د ايکه په نوم د يوې ونې عبادت يې کاوه) پيغمبران درواغجن وګڼل.

إِذْ قَالَ لَهُمْ شُعَيْبٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٧٧﴾

کله چې شعيب (عليه السلام چې مدين او ايکه سيمو ته د توحيد د تبليغ لپاره مؤظف شوی و) هغوی ته وويل: آيا (له کفر او سرکشۍ نه) لاس نه اخلئ؟

إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٧٨﴾

بې له شکه زه ستاسو لپاره( د الله تعالی له لوری) يو امانتدار استازی يم.

فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٧٩﴾

نو له الله تعالی نه وويرېږئ او( په شرعی امورو کې) زما اطاعت وکړئ.

وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٨٠﴾

او زه د خپل رسالت د ابلاغ لپاره ستاسو نه هيڅ معاوضه او اجوره نه غواړم، بلکه زما اجر د رب العالمين په عهده دی.

۞ أَوْفُوا الْكَيْلَ وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُخْسِرِينَ ﴿١٨١﴾

وزن او پيمانې( خلکو ته) ډکې او پوره ورکړئ او( مراجعينو ته) زيان مه اړوئ.

وَزِنُوا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيمِ ﴿١٨٢﴾

او د ( پلور وړ شيان) په کامله توګه وتلئ( او په معاملاتو کې خيانت او بې انصافی مه کوئ) .

وَلَا تَبْخَسُوا۟ ٱلنَّاسَ أَشْيَآءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا۟ فِى ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿١٨٣﴾

**او خلکو ته د هغوی شیان ( او اجناس) کم مه ورکوئ، او په ځمکه کې تباهي او فساد مه جوړوئ.**

وَٱتَّقُوا۟ ٱلَّذِى خَلَقَكُمْ وَٱلْجِبِلَّةَ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٨٤﴾

**او له هغه ذاته وویرېږئ چې تاسو او پخوانی امتونه یې پیدا کړی دي.**

قَالُوٓا۟ إِنَّمَآ أَنتَ مِنَ ٱلْمُسَحَّرِينَ ﴿١٨٥﴾

**هغوی وویل: حقیقت دا دی چې ته کوډو وهلی یې.**

وَمَآ أَنتَ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا وَإِن نَّظُنُّكَ لَمِنَ ٱلْكَٰذِبِينَ ﴿١٨٦﴾

**او ته زمونږ په شان یو بشر یې او مونږ په تا باندې د یوه درواغجن گومان کوو.**

فَأَسْقِطْ عَلَيْنَا كِسَفًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿١٨٧﴾

**که رښتیا وایې نو د آسمان یوه ټوټه په مونږ راوغورځوه.**

قَالَ رَبِّىٓ أَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٨٨﴾

**( شعیب) وویل: زما رب ستاسو په کړو وړو ډیر ښه خبر دی.**

فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَهُمْ عَذَابُ يَوْمِ ٱلظُّلَّةِ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٨٩﴾

**نو( قوم یې) هغه درواغجن وگڼه اوله همدې امله د سیورې د ورځې په عذاب اخته شول، چې بیشکه د لویې ورځې عذاب و( اوه ورځې سخته او خفه کوونکې گرمی او ورپسې په آسمان کې توره وریځ، چې سیورې یې جوړ کړ او ټولو خلکو په خوښۍ سره پناه ورووړه، خو ناڅاپه ورباندې د اور لمبې راښکته او ځمکه هم په لرزیدو شوه، چې خلک یې ټول د مرگ په کومې وردننه کړل).**

إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٩٠﴾

**بې له شکه په دې داستان کې د عبرت لوی درس پروت دی او د هغوی زیاتره کسان مؤمنان نه وو.**

وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٩١﴾

**او یقیناً ستا رب( پخپلو اقداماتو پوره) برلاسی او مهربان ذات دی.**

وَإِنَّهُۥ لَتَنزِيلُ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٩٢

**او بیشکه چې قرآن د رب العالمین له خوا نازل شوی.**

نَزَلَ بِهِ ٱلرُّوحُ ٱلۡأَمِينُ ١٩٣

**( او) د روح الامین( جبرئیل) په واسطه راوړل شوی دی.**

عَلَىٰ قَلۡبِكَ لِتَكُونَ مِنَ ٱلۡمُنذِرِينَ ١٩٤

**ستا په زړه باندې. تر څو چې ته اخطار ورکوونکی شې.**

بِلِسَانٍ عَرَبِيّٖ مُّبِينٖ ١٩٥

**په روښانه او فصیحه عربی ژبه.**

وَإِنَّهُۥ لَفِي زُبُرِ ٱلۡأَوَّلِينَ ١٩٦

**او بیشکه چې د دې (قرآن) د نزول( خبر) په پخوانیو کتابونو کې ثبت دی.**

أَوَلَمۡ يَكُن لَّهُمۡ ءَايَةً أَن يَعۡلَمَهُۥ عُلَمَٰٓؤُاْ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ١٩٧

**آیا دوی ته ( د قرآن د حقانیت او ستا د نبوت د اثبات لپاره) تر ټولو ښه دلیل دا نه دی، چې د بنی اسرائیلو عالمان ورباندې ډیر ښه پوهیږی( او په خپلو لیکلو اثارو کې یې یادونه کړې ده)؟**

وَلَوۡ نَزَّلۡنَٰهُ عَلَىٰ بَعۡضِ ٱلۡأَعۡجَمِينَ ١٩٨

**او که مونږ دغه( قرآن) په کوم عجمی( غیر عرب) نازل کړی وی.**

فَقَرَأَهُۥ عَلَيۡهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ مُؤۡمِنِينَ ١٩٩

**او هغه( دغه فصیح کلام اعرابو) ته لوستلی، بیا به یې هم ایمان نه وی راوړی.**

كَذَٰلِكَ سَلَكۡنَٰهُ فِي قُلُوبِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ٢٠٠

**لکه څنګه چې( مونږ قرآن، په فصیحه او روښانه عربی ژبه نازل کړی) د مجرمانو زړونو ته مو هم ورداخل کړی( تر څو ورباندې وپوهیږی او ایمان ورباندې راوړی).**

لَا يُؤۡمِنُونَ بِهِۦ حَتَّىٰ يَرَوُاْ ٱلۡعَذَابَ ٱلۡأَلِيمَ ٢٠١

**خو دغه( زړه مړی) د دردوونکی عذاب تر لیدو پورې ایمان راوړلو ته غاړه نه ږدی.**

فَيَأۡتِيَهُم بَغۡتَةٗ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ٢٠٢

(داسې عذاب) چې د غفلت او بې خبرۍ په حال کې به ورباندې نازل شي.

فَيَقُولُواْ هَلۡ نَحۡنُ مُنظَرُونَ ٢٠٣

( خو د عذاب د نزول په سخت اضطراری حالت کې به) وایي: لږ مهلت خو راکړئ( چه ایمان راوړو).

أَفَبِعَذَابِنَا يَسۡتَعۡجِلُونَ ٢٠٤

آیا په تلوار سره زمونږ عذاب غواړي؟

أَفَرَءَيۡتَ إِن مَّتَّعۡنَٰهُمۡ سِنِينَ ٢٠٥

نو وګوره! که مونږ دوی ته کلونه کلونه د هوسایۍ او سوکالۍ ژوند ور په برخه کړو.

ثُمَّ جَآءَهُم مَّا كَانُواْ يُوعَدُونَ ٢٠٦

او بیا ورباندې هماغه (عذاب) نازل شي چې دوی ته یې اخطار ورکړی شوی و.

مَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يُمَتَّعُونَ ٢٠٧

نو( ورکړی شوی مهلت او سوکالي او مزې چرچې به) له دوی نه عذاب کم نه کړی شي.

وَمَآ أَهۡلَكۡنَا مِن قَرۡيَةٍ إِلَّا لَهَا مُنذِرُونَ ٢٠٨

او هیڅ یوه ښار( او د هغه اوسیدونکی مو په بې خبرۍ کې) هلاک کړی نه دی بلکه (وېرادې له وېراندې مو) ورته تنبیه کوونکی( پیغمبران) استولی دی.

ذِكۡرَىٰ وَمَا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ٢٠٩

چې نصیحت ورته وکړي( او حجت ورباندې تمام کړي.) نه خو مونږ ظالمان وو( او نه مو له وېراندېنی اخطار نه غیر څوک تباه کړی دی).

وَمَا تَنَزَّلَتۡ بِهِ ٱلشَّيَٰطِينُ ٢١٠

او( دا مبارک قرآن) شیطانانو، نه دی راوړی.

وَمَا يَنۢبَغِي لَهُمۡ وَمَا يَسۡتَطِيعُونَ ﴿٢١١﴾

نه خو هغوی ته دغه شرف او عزت حاصل دی، او نه( د داسې عظیم الشأن کتاب د راوړلو او انتقال) قدرت او طاقت لری.

فَلَا تَدۡعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتَكُونَ مِنَ ٱلۡمُعَذَّبِينَ ﴿٢١٣﴾

نو( ای پیغمبره!) د الله تعالی په مقابل کې د هیچا عبادت مه کوه که نه( ته به هم) د عذاب وړ وګرځې.

وَأَنذِرۡ عَشِيرَتَكَ ٱلۡأَقۡرَبِينَ ﴿٢١٤﴾

او خپل نږدې خپلوان( د الله تعالی له عذابه تنبیه او) وویروه.

وَٱخۡفِضۡ جَنَاحَكَ لِمَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٢١٥﴾

او د خپلو فرمانبردارو مؤمنانو په وړاندې د مینې او صمیمیت غیږه خلاصه کړه.

فَإِنۡ عَصَوۡكَ فَقُلۡ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّمَّا تَعۡمَلُونَ ﴿٢١٦﴾

خو که یې ستا له فرمانه سرکشی وکړه، ورته ووایه چې زه ستاسو له اعمالو نه بیزاری اعلانوم.

وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱلۡعَزِيزِ ٱلرَّحِيمِ ﴿٢١٧﴾

او په برلاسی او مهربان ذات( الله تعالی) توکل کوه.

ٱلَّذِي يَرَىٰكَ حِينَ تَقُومُ ﴿٢١٨﴾

هغه ذات چې تا (عبادت ته) د دریدو په حال کې وینی.

وَتَقَلُّبَكَ فِي ٱلسَّٰجِدِينَ ﴿٢١٩﴾

او د سجدې په حال کې دې هم وینی.

إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٢٢٠﴾

او یقیناً چې هغه ( د ټولو اقوالو) اوریدونکی، او ( د ټولو کړو وړو) لیدونکی دی.

هَلۡ أُنَبِّئُكُمۡ عَلَىٰ مَن تَنَزَّلُ ٱلشَّيَٰطِينُ ﴿٢٢١﴾

آیا په دې، مو خبر کړم، چې شیطانان( شیطانی وحې) په چا نازلیږی؟

تَنَزَّلُ عَلَىٰ كُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٖ ﴿٢٢٢﴾

په هر درواغجن ګناهکار نازلیږی.

يُلۡقُونَ ٱلسَّمۡعَ وَأَكۡثَرُهُمۡ كَٰذِبُونَ ﴿٢٢٣﴾

هغه کسان چې هره( تا ویلی ما ویلی) خبره یو بل ته رسوی، او زیاتره یې درواغجنان دی.

وَٱلشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ ٱلۡغَاوُۥنَ ﴿٢٢٤﴾

(د کافرو او مشرکو) شاعرانو (یو څرګند خاصیت دا دی) چې ګمراهان یې پیروی کوی.

أَلَمۡ تَرَ أَنَّهُمۡ فِي كُلِّ وَادٖ يَهِيمُونَ ﴿٢٢٥﴾

آیا نه پوهیږئ چې شاعران( د خیال او فکر) په هره کنده حیران او لالهانده روان دی.

وَأَنَّهُمۡ يَقُولُونَ مَا لَا يَفۡعَلُونَ ﴿٢٢٦﴾

او څه چې وایی، عمل وربانديې نه کوی.

إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَذَكَرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرٗا وَٱنتَصَرُواْ مِنۢ بَعۡدِ مَا ظُلِمُواْۗ وَسَيَعۡلَمُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ أَيَّ مُنقَلَبٖ يَنقَلِبُونَ ﴿٢٢٧﴾

خو هغه مؤمن او نیک عمله شاعران( د ستاینې او تقدیر وړ دی چې د الله تعالی حمد او ثنا بیانوی، وینا او اشعار یې د ده له خپل عمل سره موافق او له دروغو، استغراق او افراط او تفریط نه پاک او د اسلام او مظلومانو د دفاع او ملاتړ په محور څرخی، او پخپلو اسلامی او حماسی اشعارو سره د اسلام دښمنو او مشرکو شاعرانو د هجوو او مسخرو ځوابونه وایی او مسلمانان نیکې لارې او د ظلم او استکبار په خلاف، جهاد او مبارزې ته هڅوی ). او ظالمان به ډیر زر پوه شی چې له څه ډول برخه لیک سره مخامخ کیږی؟

« تمت سورة الشعراء بفضل الله و عونه»

==========================